حبيب وقار نیټه 15/12/2009

# کندهارۍ خزانه ښه نوښت



په هېواد کې جګړو ډېرې مېرمنې کونډې کړې او د ډېرو بیا خپل خاوند په کې له لاسه ورکړ، اوس ډېرى مېرمنې د خپل کور د نفقې لپاره هېڅ هم نه لري، دوى اړې دي چې کار وکړي او خپل اولاد ته په خپله نفقه پيداکړي.
ډېرې مېرمنې بيا د خپلو پلرونو د بې غورۍ له لاسه معيوبو، په نېشو روږدو، او داسې کسانو ته ورکړل شوې دي چې نشي کولاى چې خپل اولاد او خپلې مېرمنې ته نفقه تياره کړاى شي، له دې امله ډېرې مېرمنې له ډول ډول ستونزو سره مخ شوې دي. چې د دې ستونزو له امله په کندهار ولايت کې رنګينې حميدي چې په کندهار کې زېږېدلې او د خپل ژوند يو څه برخه يې په امريکا کې تېره کړې ده، يوه کارخونه جوړه کړې چې په دې خونه کې ۲۵۰ کندهارۍ ښځې په کار بوختې دي، دوى په دې کارخونه کې افغاني جامې ګنډي او بيا يې پلوري، چې ډېرې مېرمنې ښې لاسته راوړنې لري.
آزادي راډيو د يوه راپور په بڼه کښلي: اته کلنې نازيې زاړه او پينه يې کالي اغوستي، د هغې لپاره لويه هيله دا ده چې د مور کارو بار يې پرمختګ وکړي، د هغې مور له لسګونو ښځو سره يو ځاى ګلدوزي کوي، هغه پر سرمېزي، سربکسيو، کاليو او نورو ټوکرانو ډول- ډول ګلونه ګنډي چې د ګلدوزۍ دې مرکز ته د کندهارۍ خزانې نوم ورکړل شوى دى.
په دې کارځاى کې ښځې په دې افتخار کوي چې د کندهار په کچه يې د ډيزاين او سوداګرۍ داسې مرکز جوړ کړى.



اسوشيټيډ پرېس ليکي، د طالبانو په وخت کې ښځو او نجونو نه شواى کولاى ښوونځيو ته لاړې شي او کارونه وکړي، خو دغه کارځاى د سوداګرۍ لپاره داسې يو چانس دى چې دوى په کې پيسې لاسته راوړي او خپلو کورنيو ته نفقه برابروي، البته د افغانستان په داسې يوه محافظه کاره سيمه کې چې ښايي د ښځو دغه کار له خطره تش نه وي.
رنګينه حميدي چې د دې کارځاى مسووليت لري وايي له امريکا څخه افغانستان ته ستنه شوې، هغه په کندهار کې زېږېدلې خو د شوروي تر يرغل درې کاله مخکې امريکا ته تللې او هلته لويه شوې، په دې وروستيو کې کندهار ته ستنه شوې او د ښځو لپاره يې د لاسي کارونو داسې يو کارځاى او سوداګريز مرکز پرانيست چې دوى يې په مرسته ځانونو ته نفقه برابروي.
رنګينې حميدي له ازادۍ راډيو سره په خبرو کې ويلي، چې توليدات يې د افغانستان تر څنګ په نورو هېوادونو کې هم زيات مينه وال لري. رنګينه وايي په راتلونکي کې به دغه سوداګري او کار و بار ته وده ورکوي.
کله چې دوه درې کاله مخکې امنيتي وضعه خرابه شوه، رنګينې پرېکړه وکړه چې د يو څو زرو ډالرو په بودجې سره د کندهارۍ خزانې په نوم دغه کارځاى پرانيزي.
رنګينه وايي دوه نيم سوه ښځې ورسره کار کوي، چې۲۳۰ يې په کورونو کې خامکدوزي کوي او شل ښځې په دفتر کې ورسره د ډيزاينرانو په توګه کار کوي. د هغې په وينا هره ښځه چې په کور کې کارونه کوي د مياشتې يوزر او شپږسوه افغانۍ، خو هغه ښځې چې هره ورځ دفتر ته ورځي د مياشتې پنځه زره افغانۍ ګټي.

په دغو ښځو کې يوه چې پر سره فرش ناسته وه، د نازيې مور وه، څلوردېرش کلنه پروينه، هغه د اوو اولادونو مور ده، هغه پر يوه زنانه کميس د کوچنيو هندارو په ګنډلو بوخته وه، داسې ښکاري لکه د ناوې کميس چې وي.
پروينې له داسې سرې سره واده کړى، چې په نشو اخته دى، ټوله ورځ په کور کې ناست وي.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ



د طالبانو په حکومت کې پروینې کار نه شوای کولای، هغې وویل: زه شرمېږم چې نور خپلوان راته ډوډۍ او کالي راوړي، مور خو څه سوالګر نه یو، زه به پخوا په کور کې وم. خو اوس مې خپلې کورنۍ ته وویل چې خپلوان دې خپل خیرات په کوڅه کې غریبو او سوالګرو ته ورکړي.

کله چې پروینې دا خبرې کولې، د هغې لور نازیې د هغې په وړاندې لاسونه وپېړکول او یې ویل: زه نه غواړم نورو ته محتاجه و اوسم، زه به پیسې ګټم.

د هېواد ټولې ښځې د دې ډول مرکزونو جوړولو ته لېواله دي، څو په کور کې کار وکړي او بیا یې مرکز ته د خرڅلاو لپاره وروړي، افغاني لاسي صنایع نړیوال شهرت لري، چې باید نوره وده هم ورکړل شي، که چېرې د هېواد هغه کورنۍ ښځې چې بل کار نه لري په کور کې په کار بوختې کړل شي، هم به د دوی له خوا له خپلې کورنۍ سره اقتصادي مرسته وي او هم به د هېواد لاسي صنایع، لکه، غالۍ، خامك ګرېوانونه، خولۍ، دسمالونه، له مریو جوړ شوي کالي او نور وده وکړي او کېدای شي چې نړیوال بازار پیداکړي. په دې سره به ډېرې کورنۍ خپلو ماشومانو ته نفقه پیداکړای شي او د خپلو کورنیو ستونزو مخنیوی به په خپله وکړای شي.

د ښځو تر څنګ که چېرې موږ ماشومان هم په دې ډول کارونو بوخت کړو، دا به د دوی لپاره د سختو کارونو په ځای آسانه کارونه وي چې سرته یې ورسوي، ځکه چې نن ورځ زموږ ډېری ماشومان په سختو او ستونزمنو کارونو بوخت دي.

که چېرې د ښځو او همدارنګه د ماشومانو لپاره دا ډول کارځایونه جوړ شي، بې وزله او بې سرپرسته مېرمنې به وکولای شي چې خپل اولاد ته نفقه پیداکړي او د هر چا احتیاج څخه به خلاصې وي، دولت باید د داسې کارځایونو لپاره د موکې په برابرولو کې مرسته وکړي څو زموږ د هېواد بې کاره ښځې او ماشومان نور د نورو خیرات ته تمه ونه لري او په خپله د خپل ځان لپاره کار وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ